# د افغانستان همبستګۍ ګوند د جنايتکارو له تروريستي ډارونو ويره نلري!

د افغانستان همبستګۍ ګوند د واکدارو خاينانو او جنايتکارانو پر وړاندې د چوپتيا ماتونې سره په کابل کې د غويي اوومې او اتمې ناورين اچوونکو د غندلو په موخه د سلګونه خلکو په راټولولو يې لوی لاريون پر لار واچو او د لومړي ځل لپاره يې د خلقي، پرچمي تنظيمي او طالبي انسان وژونکو انځورونو ته اوور ورته کړ. زموږ دې خوځښت د هېواد پلورو درمند تـه اوور واچـوه او د وروسـتيو دريـو لسيزو جلادانو د ډار او ويرې فضا يې له منځه يوړه.

د «جهاد» سوداګر او د دين او مذهب ټيکه داران چې د قربانيانو د انصاف غوښتنې د آوازونو له راوچتيدو ويره لري او خپلې ناروا کړنې د خپلې مافيايي واکمنۍ پای ګڼي، د کابل په واټونو کې «مړه دې وي جنايتکاران» له آوازونو ورخطا شـوي. تېـرو څـو ورځـو پـه لـړ کې زموږ ګوند د رسمي او غير رسمي سرچينو د بريدونو او فشار لاندې راغلی او په هڅه کې دي، څو په موږ د مبارزې ميدان راتنګ کړي. په مشرانو جرګه کې يو شمېر ټوپکسالارانو د خپلو خيانتونو د پټولو په موخه له دولت څخه وغوښتل، چې د همبستګۍ ګوند غېر قانوني اعلان کړي او رهبران يې عدلي او قضايي نهادونو ته وروپيژني. دوی د ملي امنيت رئيس د پوښـتنې لانـدې ونيـو، چې د دغې کـار پـر وړاندې يې عمل ولې ندی ترسره کړی. له دوی څخه يو ظلم کسبه په کلکه وويل، که چېرې دولت زمـوږ پـر وړانـدې اړونـد اقدامات د لاس لاندې ونه نيسي، نو په خپله به لاس په کار شي. په ولسي جرګه کې هم يو شمېر ټوپکسالارانو غوغا واچوله او زموږ د ګوند د لـړې کيدو غوښتونکي شول. دوی عدليې وزارت ته امر وکړ، څو د ګوند رسـميت وځـړوي. يـو شـمېر اواره ټوپکسـالارانو پـه خپـل ګومـان د ټليفوني اړيکو له لارې غوښتل چې موږ وډاروي.

ليکن له بل اړخه، تېرو څو ورځو په لړ کې زموږ ګوند د ډېرو خلکو او پوهه او هېواد دوسته عناصرو پلوي خپله او د هېواد له دننه او بهر د خپلو هېوادوالو د مينې ډکې د يووالي او همبستګۍ څپې ترلاسه کړې، چې زموږ لـه دغـه حرکت څخـه پلـوي کـوي، د مرسـتې لپـاره خپل چمتو والی ښايي. دغه پلوي او طرف داري موږ ته دا ځواک رابخښي، چې په ټينګه او پريکنده خپلې مبارزې تـه ادامـه ورکـړو او د ملي خاينانو پر وړاندې له خپلې موضوع هيڅ سترګې پټې نکړو.

موږ ته ټول دغه غېرګونونه د وړاندوينې وړ وو. ويني څښونکي، جاهلان او د مافيا بچې، چې د دموکراسـۍ اکټونـه کـوي، هغـه ګيـدړان دي، چې د ګډو پوټکي يې په تن کړي. دغه ځناور که څه هم د امريکا د بوډۍ ټـال څخـه تيـر او يـوه شـپه کې دمـوکرات شـوي، لـيکن واقعي جوهر يې بدلون ندی موندلی. دوی ته دموکراسي او د بيان آزادي تر هغـه د منلـو وړ دی، چې د دوی ځـای او مقـام د پوښـتنې لاندې را نولي او وکولای شي له دغې د خپلو شيطاني موخو ترلاسه کولو لپاره د جنګ الې په توګه ناوړه ګټه پورته کړي.

دوی د عامه ذهنونو ته دوکې ورکولو لپاره کوښښ لري، داسې ښـکاره کـړي، چې ښـايي زمـوږ ګـونـد د روسـي نيـواکګرو پـر وړانـدې د افغانستان د خلکو مقاومت ته سـپکاوی کـوي. مـوږ د تـل لپـاره ويلي دي، د روسي يرغلګـرو مـاتې چې زمـوږ د درديـدونکو خلکـو پـه سربښيندنې او جګړې ترلاسه شوې، زموږ د ځليدلي تاريخ يوه پاڼه جوړوي. لـيکن يـو شـمېر پـه اصطلاح جهـادي رهبـران، چې خپـل ځانونه يې په پاکستان، ايران، عربستان او امريکا خرڅ کړل، زموږ د خلکو د سربښيدنو حاصل يې غلا او ورسره خيانت يې وکړ. دوی د

ډاکټر نجیب کمزوري رژیم په راپرځیدو د خلقي او پرچمي هیواد پلورو سره د لاس په یو ځای کیدو داسې خیانتونه او جنایتونه ترسره کړل، چې د دوو لسیزو په تیریدو اوس هم زموږ هېواد له بدو کړنو او وینې تویونې خلاصون ندی پیدا کړی او د دغو ناورینینو لاملین لا تراوسه هم زموږ د خلکو په برخلیک واکدار دي. په دې یې بسنه هم ونکړه، هغه وخت، چې د پارلمان په فاسدو څوکو یې غاړه واچوله، د ملت له ویرې او وینه، چې په ناحقه یې تویې کړې وه، یو بل وبخښل.

موږ د جنایت کسبه تروریستي ډارونو او ماشوم ویروني پروا نلرو، که چېرې دوی غیرت او میړانه لري، مهرباني دې وکړي، د دوی په فاسدو محکمو کې د عامو خلکو په ګډون موږ دې په ښکاره توګه محکمه کړي، څو وښایو چې د افغانستان د همبستګۍ ګوند ګناه کاره دی یا د دغو خاینانو د خیانت او ظلم پرده اوچتیږي. دوی چې لاسونه یې په وینو ککړ او حرامې شتمنۍ چې د بیګناه خلکو د وینو په سکلو ترلاسه کړي، له عدالت سره په مخامخ کیدو ویره لري، یوازې د زور، څوکۍ او د خپلو بهرنیو اربابانو په ډاډ غواړي، د مخالفو آوازونه غلي کړي، لیکن زموږ ګوند د دوی له ډارونو ویره نلري او متعهد دی، چې زموږ د ربړیدونکو خلکو په ډاډ، دغو کاغذي پړانګانو ناولي وجود ته اوور ورته کړو.

خلقي، پرچمي، تنظیمي او طالبي جلادانو د انصاف غوښتنې له ورځې د تښتیدلو لپاره، هر یو یې د ایران، پاکستان، امریکا، انګلستان او ... د غلامۍ امیل په ویاړ سره پر غاړه کې اچولی او د خپلو مالیکانو په ډاډ زموږ پر وړاندې غاپې. دوی باید پوهه شي، هغه وخت چې خلک یو شي او راپاڅیږي، نور د ناټو د جګړې لوی ماشین، سیا، ای. اس. آی، واواک او د دوی ټول باداران به هم په دې ونه توانیږي، چې د خلکو سپیڅلې غصې او قهر څخه د دوی ساتنه او خلاصون ورته وکړي.

تاریخ موږ ته یادوي، چې د واقعي دموکراسۍ د ونې ښېرازي، آزادي او عدالت، سرښیندنو ته اړتیا لري. څرنګه چې د یو ټونسي ځوان سرښیندنه د «عرب پسرلي» پیغام راوړونکی شو، زموږ ټوټه ټوټه او په وینو کې ډوب هېواد، خلکو ته اړتیا لري، چې په خپل ځان خطر ومني او هیواد پلورو او وینې څښوونکو پر وړاندې خپله سینه ډال کړي او د خاینانو د ځناورۍ او زور زیاتي له منځه وړلو سره دوی د «افغانستان پسرلي» زیری وګرځي. د همبستګۍ ګوند د داسې کړنو ترسره کولو لپاره هوډ کړی او دې لوی جګړې لپاره پر ټولو ملي، دموکرات او خپلواکۍ غوښتونکو عناصرو غږ کوي، که چېرې واقعاً په زړونو کې یې له زخمي هېواد او بدمرغه خلکو سره مینه وي، د تئوري صادرول او روڼ آنده لیکنې او جملې دې بغل ته کیږدي او په عمل کې زموږ د بې وزله او بې چاره خلکو د پوهاوي، راټولولو او سازمان ورکونې په برخه کې دې کار وکړي.

امریکایي چوپړانو د هېواد مور پر امریکا وپلورله؛ افغانستان یې د بیلونې خطر سره مخامخ کړ؛ په مکر او فریب زموږ باشرفه ملیتونه یې له یو بل سره په جنګ واچول؛ د ټولنې ټول ژوند یې مافیایي کړ؛ له ټولو فاسده او مزدور رژیم یې زموږ پر ملت تحمیل کړ او زموږ هېواد یې له تباهۍ سره مخامخ کړ. په داسې وضعیت کې هغه ځواکونه چې په دار ځړول، چوپتیا او ډارونه خپل کسب ګرځوي، د هېواد او خلکو پر وړاندې د تل لپاره ګناه کاره دي. موږ نه غواړو چې د تاریخ ګناه کاره اوسو، ځکه نو بې له ویرې او پر شا نه تللو سره پاځیدلي یو او د سترې خپلواکۍ، آزادۍ او د افغانستان بریالیتوب تر ورځې به غلي کینو. په دغه کرې وړې او سرښیندنې غوښتونکي لار کې د ټولو باشرفه او هېواد دوسته نهادونو لاس په کلکه نیسو.

**د افغانستان د همبستګۍ ګوند**

د۱۳۹۱ کال دغویي ۱۸ مه (د ۲۰۱۲ کال د مئ ۷)

info@hambastagi.org | www.hambastagi.org | ۰۰۹۳(۰)۷۰۰۲۳۱۵۹۰